SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اووني كي دوه ځله خپريږي

دافغانستان د اسلامي امارت مركزي نشراتي ارگان

څلورم كال اوه پنځوسمه گڼه پرله پسي (۲۴۷) يكشنبه د ۱٤۲۰هـ ق كال د ربيع الثاني (۲٦) د۱۳۷۸هـ ش كال د زمرى دمياشتي(۱۷) د۱۹۹۹ميلادي كال د اگست (۸)

قرار گزارش منابع موثق :

هراس و سراسيمگى بى مثال صفوف مخالفين را فرا گرفته است

تفنگداران مسعود بار ديگر به كشت ماين ها در طول راه هاي مواصلاتي و رفت و آمد مردم دست زده اند

قرار گزارشات موثقي كه از مناطق تحت ظلم مليشه ها مواصلت نموده گفته مي شو د كه هراس و سراسيمگي بي مثالي صفوف مخالفين را فرا گرفته و افراد مخالف هر لحظه از ترس حملات مجدد مجاهدين اردوي امارت اسلامي بر خود مي لرزند.

قرار حكايه شاهدان عيني اكثريت گروپ هاي مسلح مخالف از هم متلاشي گرديده و افراد آنها يا فرار نموده و يا هم به مخفي گاه هاي شخصي خويش پناه برده اند و از تداوم مقاومت در برابر امارت اسلامي افغانستان دست كشيده اند. در گزارشات آمده است كه مخالفين بمنظور حفظ جان هاي خويش تلاش هاي مذبوحانه نموده و غرض تامين امنيت خويش به كشت مجدد ماين در طول راه هاي مواصلاتي و رفت و آمد مردم گرديده است، شاهدان عيني علاوه مينمايند كه تفنگ داران مسعود به مظالم خويش عليه مردم منطقه سرعت بخشيده و به تاراج دارايي هاي شان بيشتر از پيش دست زده اند.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دى تقوا(پرهيزگارى) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د اسلامي امارت د واكمني د ټينگښت او په كابل كي د سولي او امنيت په تامين سره :

د كابل د نړيوال هوايي ډگر د تأسيساتو د بيا جوړوني كار په بېړه پر مخ روان دي

د لوړ رتبه ميلمنو د هر كلي په خاطر د VIP سالون هم جوړ او گټي اخستلو ته چمتو شويدي

د هوايي ډگر د بريښنا اته برجونه بيا جوړ او فعال شويدي

د كابل د نړيوال هوايي ډگر د تاسيساتو د بيا جوړوني كار په بيړه روان دي او ددغه هوايي ډگر د كاناليزاسيون سستم د بيا رغاوني كار بشپړ شويدي.

د كابل د هوايي ډگر مسؤول محترم ملا محمد يونس د باختر د اطلاعاتي آژانس له خبريال سره د خبرو په ترځ كي وويل په كابل كي د اسلامي امارت د واكمني په ټينگښت او د سولي او امنيت په تامين سره د ملكي هوايي چلند او توريزم وزارت د مشرتابه هيأت خپله ځانگړي پاملرنه د كابل د نړيوال هوايي ډگر د تاسيساتو د بيا جوړوني او رغاوني كار ته چي د تير رژيم د جگړو له امله زيات زيانونه ورته اوښتي دي اړولې ده . لكه څنگه چي د كار له پيل نه تر اوسه پري د اوبو رسولو د كاناليزاسيون د سيستم د بيا جوړوني كار بشپړ شويدي.

خبر ځاي زياته كړه د كابل د نړيوال هوايي ډگر د بريښنا د اتو برجونو د بيا جوړوني كار بشپړ شوي او ويلي شوي چي د بريښنا د پنځلسو زرو ولټو برېښنا د جوړولو كار هم بشپړ شويدي.

دغه راز د VIP سالون چي د لوړ رتبه ميلمنو د هر كلي لپاره په پام كي نيول شويدي هم بيا جوړ او بشپړ شويدي او د يو جامع جومات د جوړولو كار چي د اسلامي امارت له بودجي نه په پاخه او اساسي ډول د لهه زره لكو افغانيو په ټول لگښت پيل شويدي په بيړه دوام لري او دوه مياشتي وروسته به بشپړ او د استفادي وړ وگرځي.

ده زياته كړه په تير رژيم كي د كابل په نړيوال هوايي ډگر كي د جومات جوړول هيڅ په پام كي نه و نيول شوي خو ٤ مخ

د تركيي هلال احمر د افغاني سري مياشتي له ټولني سره مرسته وكړه

د تركيي جمهوريت هلال احمر د افغاني سري مياشتي له ټولني سره د يوي اندازي ډول ډول درملو مرسته كړيده .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د تركيي هيواد د هلال احمر په دي بشر پاله مرسته كي د لسو كارتنو په گڼون دري ديرش قلمه ډول ډول درمل شته چي د تركيي جمهوريت د هلال احمر د استازي ښاغلي كمال دوغان له خوا پرون د افغاني سري مياشتي د ټولني عمومي رئيس او سكرتر جنرال محترم حافظ مولوي سيد عصمت الله سره د كتني په ترځ كي دغي ټولني ته وسپارل شوه .

دغه مرسته د كور وداني په ويلو سره ومنل شوه .

د كندز ولايت د امام صاحب ولسوالي دېندارو خلكو له اسلامي امارت سره پر خپلي همكاري ټينگار وكړ

د كندز ولايت د امام صاحب ولسوالي دېندار خلك په ټول هيواد كي د اسلامي امارت د لوړو ارمانونو د عملي كولو په لاره كي هر راز سرښيندني او ځان تيريدني ته تيار دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ په هغي كتنه كي چي پرون د كندز ولايت د امام صاحب ولسوالي د عرب قشلاق قراول، مراد شيخ او تياح د كلو مشرانو، مخورو قومي او جهادي شخصيتونو د كندز له والي محترم الحاج محمد عارف خان او ددغه ولايت د امنيت په ساتنه او دفاع كي په خپله هر اړخيزې او بشپړي همكاري باندي د ټينگار په ترځ كي څرگنده كړه چي په ټول هيواد كي د اسلامي امارت د لوړو ص ٤

طي سال گذشته ،

امريكا به ارزش هفت مليارد دالر اسلحه را به خارج صادر نموده است

طبق گزارش كنگره ايالات متحده امريكا آنكشور در سال گذشته حدود هفت مليارد دالر اسلحه را به خارج صادر نموده و به فروش رسانده است .

ايالات متحده امريكا بفروش اين رقم تسليحات در صدر كشور هاي صادر كننده تسليحات در سال ۱۹۹۸ قرار گرفته است. امريكا در يك سال قبل يك و نيم مليارد دالر كمتر ازين رقم اسلحه به فروش رسانده بود كشور آلمان با فروش پنج مليارد و پنجصد مليون دالر اسلحه در سال گذشته مقام دوم را گرفته بود. ص ٤

په الخليل كي :

صهيونستي پوځيان د خلكو د راغونډيدلو مخه نيسي

په لويديځه غاړه د الخليل په ښار كي حالات همانغه شان كړكيچن پاتي دي او صهيونيستي پوځيان په پرله پسي توگه د څلورمي ورځي لپاره ددغه ښار د خلكو د راغونډيدلو مخه نيسي.

د نړيوالو خبري منابعو په وينا د الخليل ښار په تيرو ورځو كي د فلسطينيانو له اعتراضيه ډكو مظاهرو ډكر واو په مظاهره كوونكو باندي د اسرائيلي عسكرو د تيري ورځي د بريد له امله يو فلسطيني ماشوم په سر باندي سخت ټپي شو .

دوه ورځي مخكي هم د صهيونستانو لخوا دوه نور فلسطيني ماشومان ټپيان ٤ مخ

د كونړ په ولايت كي د نيالگيو د كركيلي پراخه ساحه جوړيږي

څه د پاسه د لسو زرو ميوه لرونكو اوبي ميوو نيالگيو په ظرفيت د كونړ په ولايت كي د نيالگيو د بزغليو د كركيلي پراخه ساحه جوړيږي.

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكړ د هيواد د كرني فارمونو او د بزغليو د كركيلي د فارمونو د بيا جوړولو په كار كي د افغانستان د اسلامي امارت د رغنده اقداماتو له مخي په دي وروستيو وختو كي په روان كال كي د كونړ ٤ مخ

ساحه وسيعي در ولايت كندز تحت زرع قرار داده شد

ساحه وسيعي زمين زراعتي توسط اداره زراعت ولايت كندز تحت زرع قرار داده شده است .

آژانس اطلاعاتي باختر از قول رياست زراعت آن ولايت گزارش داد فارم هاي زراعتي امارتي و مزارع دهاقين ولايت كندز كه قبلاً طي دوران حكومت ائتلافي رباني توسط يك عده از قوماندانان غصب گرديده ماشين آلات ، افزار كار، و اموال داخل تحويلخانه هاي رياست زراعت آن ولايت كلاً بغارت برده شده بود اكنون تمام عرصه هاي زراعتي در حال احياو باز سازي قرار دارد .

منبع افزود: طي سال گذشته ص ٤

قرار گزارش سازمان ملل متحد :

نابرابري هاي اجتماعي و فاصله بين فقيران و ثروتمندان جهان گسترش يافته است

به اساس گزارش اداره نفوس سازمان ملل متحد نابرابري هاي اجتماعي و فاصله بين فقيران و ثروتمندان جهان در سالهاي اخير گسترش قابل ملاحظه يي يافته است.

به اساس اين گزارش در حاليكه يك مليارد و سه صد مليون نفر از جمعيت جهان روزانه كمتر از يك دالر عايد دارند. دو صد ثروتمند جهان بين سالهاي ص ٤

له روغتيايي قوانينو نه د سرغړوني له كبله :

په كابل ښار كي اته درملتونونه وتړل شول

د كابل ښار په مربوطاتو كي د روغتيايي قوانينو او څيړني د رياست د موظفينو لخوا پرون له روغتيايي قوانينو نه د سرغړوني له امله اته درملتونونه وتړل شول.

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكړ دغو موظفينو د كابل ښار له درملتونونو د كنترول او پلټني په بهير كي اته درملتونونه چي د عامي روغتيا د وزارت د وضع شويو قوانينو او اصولو نه د سرغړوني او د درمل جوړونكي د نه درلودلو له امله د كابل ښار په څلورمي او پنځلسمي ناحيي په مربوطاتو كي د پنځو ورځو لپاره وتړل .

په كوسووا كي د روسي پوځونو پر موجوديت اعتراض وشو

د كاسووا د ايالت كابو دري زرو تنو البانيايي توكمو د ملگرو ملتو د سولي ساتني په ځواكونو كي د روسيي د عسكرو د ميشته كيدو په ضد اعتراض كړيدي.

د البانيايي توكمو دغه مظاهري د پرستينا ښار په پنځه اويا كيلو متري كي د كوزو فكاو كافيجا په ښار كي تر سره شوي چي د امريكا د متحده ايالاتو د عسكرو ص ٤

محترم ملا عبدالقيوم آخند زاده سرپرست رياست تصدي تدوير و مراقبت مكروريانها در گفتگو با خبرنگار شريعت :

از اثر جنگهاي تحميلي در شهر كابل به بنياد هاي اساسي تصدي تدوير و مراقبت مكروريان ها مبلغ شش مليون دالر خساره وارد گرديده است

شريعت : خوانندگان گرامي ! خبرنگار هفته نامه شريعت با محترم ملا عبدالقيوم آخندزاده سرپرست رياست تصدي تدوير و مراقبت مكروريانها در مورد نحوه كار و فعاليت، خسارات وارده از اثر جنگ هاي ويرانگر و تباه كن اخير مصروفيت ها و فعاليت هاي فعلي، پلان هاي سال ۱٤۲۰ ، مشكلات و پرابلم هاي آن رياست مصاحبه يي را انجام داده است كه توجه شما عزيزان را به خوانش آن فرا ميخوانيم.

نخست محترم رئيس تصدي تدوير و مراقبت مكروريانها در مورد تاريخچه رياست متذكره چنين گفت : تصدي تدوير و مراقبت مكروريانها در سال ۱۳٤۳ در چوكات وزارت فوايد عامه وقت با تشكيل مختصر ۲۵۰ نفر تحت عنوان آمريت حفظ و مراقبت به شكل واحد اداري تحت رياست ښاروالي كابل فعاليت ميشود و صرف وظايف ابتدايي حفظ و مراقبت، ترميمات جاري به ويژه وظايف تأمين آب سرد آشاميدني و مركز گرمي (آب گرم) و تنظيف و سرسبزي را به دوش داشت. در سال ۱۳۵۵ بنا بر ازدياد حجم وظايف از قبيل ترميمات ص ٤

د امريكي د ځمكنيو قواو عمومي قوماندان په ناڅاپي توگه تركيي ته لاړ

د نړيوالو خبري منابعو د رپوټ له مخي د امريكا د متحده ايالاتو د ځمكنيو ځواكونو عمومي قوماندان پرون له خپل تركي سيال سره په انقره كي خبري اتري وكړي.

د تركيي د اناتوليه خبري آژانس چي دغه خبر يې خپور كړ ددغي كتني د جزئياتو د امريكا د ځمكنيو ٤ مخ

رئيس جمهور الجزاير از فرانسه ديدن مينمايد

عبدالعزيز بوتوفليقه رئيس جمهور الجزاير به عنوان نشانه آشكار از بهبود مناسبات بين الجزاير و فرانسه در ماه سپتمبر از فرانسه بازديد بعمل خواهد آورد.

درين حال وزارت امور خارجه فرانسه اعلام داشته است كه ژاك شياك رئيس جمهور فرانسه در تاريخي كه بعداً تعيين خواهد شد به الجزاير سفر خواهد كرد .

در سالهاي گذشته روابط ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ثبات منطقوي را كى ها تهديد ميكنند؟!!

اخيراً يكي از جرايد امريكايي موسوم به «ريويو» با استدلال خيلي ضعيف و نا مستدل، امارت اسلامي افغانستان را منحيث تهديد به ثبات در منطقه وانمود ساخته و علاوه نموده كه دهشت افگنان چندين كشور در امارت اسلامي افغانستان تحت حمايت قرار گرفته شده و تقويت ميگردند همچنان به سلسله اتهامات نارواي خويش جريده مذكور كشت مقدار وافر ترياك در افغانستان را نيز به ساحه تحت حاكميت ا.ا.ا مربوط ساخته است. اگر منصفانه قضاوت صورت گيرد و هر يك از اتهامات وارده جريده مذكور در پرتو حقايق و واقعيت هاي موجوده بررسي گردد بدون شك حكم بايد نمود كه گردانندگان جريده فوق الذكر از ص ۲

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
ـ لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

بي انصافي عظيمي كار گرفته و از حقايق غير قابل انكار چشم پوشي نموده است .

بر همه جهانيان هويدا است كه بي ثباتي در منطقه زماني ظهور نمود كه كودتاي كمونيستي به حمايت مستقيم شوروي اسبق در افغانستان پياده گرديده و متعاقب آن لشكر سرخ در افغانستان هجوم آورد، واقعاً كه آن زمان بر علاوه استقلال و تماميت ارضي افغانستان، به حاكميت ملي ايران، پاكستان و حتي چين و تركيه نيز خطرات جدي متوجه گرديده و اگر جهاد قهرمانانه ملت مجاهد افغان نمي بود و ارتش سرخ به زانو در آورده نمي شد خواهي نخواهي بي ثباتي كامل منطقه را فراگرفته و خطرات جدي به استقلال و حاكميت ملي كشور هاي منطقه متوجه مي گرديد !!

بعد از شكست رژيم نجيب و حاكميت ائتلافي رباني مسعود و رفقاي نا متجانس ائتلافي اش در وضع منطقه نظر به سابق چندان تغيري رونما نگرديد حتي حالات به وخامت گراييد مداخلات خارجيان در حدود افغانستان از هر جانب سرعت يافته و هر كشور جناحي را در آغوش گرفت و در دايره تشكيلات نظامي شان افراد خود ها را مصروف ساختند و در عين حال هر يك از جناح هاي مسلح بمنظور ارعاب طرف مقابل ، مخالفين سياسي حاميان خارجي گروه مخالف خويش را در صفوف خود جا داده و از آنها بر عليه مخالفين و حاميان خارجي شان منحيث حربه، نظامي استفاده نمودند كه اين فعاليت ها خود به تقويت جناح هاي مخالف نظام هاي حاكم كشور هاي منطقه منجر گرديده و باعث بي ثباتي در آن كشور ها مي گرديد، اما بعد از حاكميت امارت اسلامي افغانستان در كشور كنترول قسمت اعظم سرحدات كشور توسط اردوي امارت اسلامي، رفت و آمد غير قانوني اتباع خارجي به افغانستان ممنوع قرار داده شد، امارت اسلامي افغانستان احترام به حاكميت ملي و تماميت ارضي كشور هاي جهان خصوصاً همسايه گان خويش را از اولويت هاي سياست خارجي خويش پنداشته و بار ها به همه همسايه گان خويش و غيره كشور هاي جهان از جانب خويش اطمينان بخشيده كه هيچگاه از جانب ا.ا.ا به حاكميت ملي و سرحدات ديگران هيچنوع خطري متوجه نخواهد گرديد كه كشور هاي همسايه نيز به حقيقت مذكور اعتراف نموده و در اكثر مواقع رهبران آنها اين امر را تصديق نموده اند كه گرداننده گان جريده متذكره بايد به آنها متوجه مي گرديد و قضاوت مينمود لازم بود تا جريده «ريويو» به عوض امارت اسلامي افغانستان اين لقب را به آنهايي منسوب مي نمود كه قوت هاي نظامي خود را در سرحدات ديگران جا به جا نموده، بمنظور تداوم جنگ در يك كشور همسايه خويش، محموله هاي سلاح و مهمات نظامي را به مخالفين همسايه گان خويش تحفه گونه تقديم مينمايند و مخالفين همسايه گان خويشرا در آغوش گرفته و به آنها قرارگاه هاي نظامي و پناه گاه در كشور هاي خويش اعمار مينمايند.

در مورد كشت مواد مخدر در ساحه تحت حاكميت امارت اسلامي افغانستان نيز جريده «ريويو» خيلي خطا رفته، زيرا سياست ا.ا.ا در اين راستا نيز خيلي منطقي و به اخلاص مبتني بوده و ا.ا.ا هيچگاه نخواسته تا از جانب افغانان خطراتي متوجه صحت و سلامتي جامعه جهاني گردد .

تشكيل كميسيون امارتي مبارزه با مواد مخدر حريق صد ها كيلو گرام مواد مخدر ، انهدام چندين فابريكه توليد ترياك، پاك كاري هزاران جريب زمين در چندين ولسوالي و ولايت كشور از بته هاي ترياك و تبليغات و تلاش هاي شباروزي ا.ا.ا در رابطه به منع و كنترول توليد مواد مخدر همه و همه مبين ضديت اصولي ا.ا.ا با كشت و توليد اين ماده ميباشد و دليلي را كه در بعضي از مناطق كشور هنوز هم كشت ترياك جاري است ا.ا.ا به گوش جامعه جهاني رسانيده و در اين راستا از آنها خواهان استمداد گرديده است كه جامعه جهاني بايد در اين مورد **رسالت خويش را ايفا نمايد ورنه ملامتي به دوش ا.ا.ا نخواهد بود .**

با تذكر مختصري كه در فوق ذكر شد شايد مسؤولين جريده «ريويو» به حقايق پي برده باشند !!

الله تعالی فرمایی : یا ایها الذین امنوا اصبروا... «آل عمران - ۲۰۰»

ترجمه : ای هغه کسانو چی ایمان مو راوړی د الله د حکمونو په عملی کولو او له مصیبتونو سره په مخامخ کیدو صبر وکړی، او د صبر په واسطه په خپلو دښمنانو غلبه حاصله کړی، او د اسلام مرچلونه کلک وساتی تر څو د کفارو سهی مقابله وکړی او دالله جل جلاله نه وویریږی تر څو په دنیا او اخرت کی کامیاب شی.

ربښتیا هم ایمان او صبر داسی روحانی قوتونونه دی چی د انسان اراده قوی کوی په زړه کی یی صبر او زغم زرغونوی، اندیښنی او غمونه تری لری کوی او اعصاب یی آرامول. او هغه روانی مرضونه لکه ویره، وارخطایی، بی صبری... او داسی نور چی د انسان ژوند او حیثیت تهدیدوی ، د زړه قوت او د بدن زور یی له منځه وړی. د هغو ټولو لپاره بواځنی عاجله دوا صبر او زغم دی.

د مسلمان لپاره صبر کول ځکه ضروری بلل شوی چی د هغه د ښو او بدو ، آسانه او مشکلو کارونو نتیجه د الله له لوری ورته ټاکل شوی الله تعالی فرمایی : وعسی ان تکرهو شیئا ... یعنی ښایی چی تاسی یو شی په خپل نزد بد ګڼی پداسی حال کی چی هغه ستاسی لپاره ښه او خیروی او ډیر ځله یو **شی چی تاسویی په خپل نزد خیر او ښه بولی پداسی حال کی چی هغه به ستاسی لپاره شر وی. ستاسی په خیر الله تعالی ښه** پوهیږی او تاسو په خپل خیر نه پوهیږی .

په پورتنی آیت کی الله تعالی خپلو بندګانو ته دا ښیی چی د هر کار ظاهری او باطنی انجام سره فرق لری او ډیر ځله به د یوه کار ظاهری بڼه ښه وی لیکن باطن به یی بد وی او باد دی بر عکس . او پدی کی هیڅ شک نشته چی د هری سختی سره اسانی ملګری وی نو مؤمن ته لازمه ده چی د مشکلاتو او سختی په وخت کی ځان ونه بایلی او د مشکلاتو په زغملو صبر وکړی . ځکه مشکلات او ارامی یو په بل پوری متصل را روان دی.

صبر ځکه په انسان لازم شوی چی دا دده ځانګړی صفت دی. الله تعالی انسان ته د نفسی خواهشاتو تر څنګ عقل هم ورکړی چی د هغه په واسطه انسان ښه او بد جلا کولی شی. ددی خبری د ښه وضاحت لپاره باید ووایو چی حیوان ته هم الله تعالی د شهوانی غوښتنو غریزه ورکړی خو عقل یی ندی ورکړی او له همدی کبله هغه نشی **کولی چی د خپلی همدغی غریزی د اشباع په وخت کی ځان کنترول او د هغه ښه او بد انجام وسنجوی ملائکو ته الله تعالی عقل ورکړی خو شهوت یی ندی ورکړی هغوی د خپل عقل په لرلو سره د الله تعالی د عبادت نه سرغړونه نه کوي** لدی خبرونه دا نتیجه ګیری کیدای شی چی د ملایکو او حیواناتو خلقی صفات ددی جوګه ندی چی په صبر وازمویل شی نو کوم انسان چی د خپل نفسی شهواتو واګی عقل ته وسپاری هغه به د حقوا او ښو کارونو په سهی سرته رسولو کی ازادوی او له هیچا نه به نه ویریږی پدی حالت کی یی مقام له ملایکو هم لوړیږی او که د خپل عقل واګی د نفسی خواهشاتو په لاس ورکړی نو پدی حالت کی له حیوان څخه هم بد تره وی چی د هرچا د خیرو او غوښتنو په عملی کولو پسی به روان وی .

د دعوت په لار کی د رسول اکرم «ص» د صبر یوه نمونه او د هغه نتیجه .

حضرت ابن مسعود «رض» داسی کیسه کوی : د مکی مکرمی قریشو یوه ورځ یو څو اوښان حلال کړل ددی ورځی په سبا حضرت رسول اکرم «ص» په حرم شریف کی لمونځ کاو ابو جهل له خپلو ملګرو سره د کعبی د باندی په یوه مجلس کی **ناست و او خپلو ملګرو ته یی وویل څوک به د فلانی قبیلی د حلال شویو اوښانو لری راوړی او محمد «ص» ته به یی په هغه حالت کی چی دی په سجده شی په غاړه کی ورواچوی د مشرکینو یوه تن وویل زه تیار یم چی دا کار** وکړم سمدستی ولاړ د حلال شوی اوښی لری یی راوړ او کله چی رسول اکرم «ص» سجدی ته ولاړ هغه یی لری د اوږو په منځ کی ورکیښود . قریش ددی منظر په لیدو ټول خوشحاله او په خندا شول او د زیاتی خندا له وجی یو په بل ورولویدو.

حضرت ابن مسعود زیاتوی زه ددی منظر په لیدو حیران ولاړ وم. حضرت رسول الله «ص» له سجدی نه سر نه پورته کاو پدی وخت کی یوه نفر حضرت فاطمی «رض» ته دا خبر ورساو هغه چی عمر یی کم و راغله او د رسول اکرم «ص» له اوږو یی دا وښی لری لری کړ . او قریشو ته یی بد رد وویل حضرت رسول اکرم «ص» په بشپړ اطمینان سره لمونځ پای ته ورساو او له هغه وروسته یې قریشو د هغو مشرانو په حق کی چی ده مبارک ته به یی ډیر ضرر رساوه په لوړ اواز داسی بدء دعا وکړه . ای الله له قریشو څخه زما غچ واخله ای الله ته ابو جهل بن هشام ، عقبه بن ربیعه ، شیبه بن ولید بن عقبه ، امیه بن خلف ، او عقبه بن ابی معیط هلاک کړی ددی قصی په پای کی عبدالله ابن مسعود داسی وایی : قسم په هغه الله چی **محمد یی په ربښتیا د بشری پرګنو د سمی لارښونی لپاره رالیږلی چی مونږ د سر په سترګو د پورتنیو شپږو واړو** جسدونه د بدر په غزا کی ولیدل چی په ډیره خواری او ذلت سره د بدر کوهی ته ولویدل.

صلیبی وسلوال استعمار څنګه په مفکوروی استعمار بدل شو

رحیم الله "حنیفي" - دریمه برخه

زویمر د خپلو خبرو په لړ کی خپله د بشریت ضد نظریه پیش کوی او داسی وایی : ... ستاسو دنده دا نده چی مسلمانان په مسیحی دین کی شامل کړی ځکه چی په مسیحی دین کی د دوی داخلیدل ورلره لارښوونه او درناوی دی بلکی ستاسی د غربی نړی له لوری د رسپارل شوی دنده دا ده چی مسلمانان فقط له اسلام څخه وباسی تر څو له خپل خالق سره هیڅ رابطه و نه لری او په دی وخت کی به دوی له اخلاقی معیار څخه پوره بی برخی شی چی په نتیجه کی به یو عادی د نورو حیواناتو په شان مخلوق تری جوړ شی، او هر کله چی تاسی زما ددی نظری په پلی کولو کی بریالی شوی، په ټوله اسلامی نړی کی به مود استعمار سباوون راخیژولی وی »

نوموړی مبشر په همدی کنفرانس کی تعلیمی ادارو ته د استعمار په اشاره داسی وویل : « شک نشته چی د نولسمی میلادی پیړی له دریمی برخی را په دی لوری مونږ په اسلامی نړی کی د ښوونی ټولی مرحلی تر خپل تسلط او اغیز لاندی راوستی دی » دی زیاتوی چی : ای ملګرو تاسی د مسلمانانو په کورونو کی داسی زلمیان روزلی دی چی له خپل رب سره هیڅ تړون او تعلق نه لری او دوی نه غواړی چی دا تړون او رابطه پیدا کړی دا ځوانان مو له اسلام څخه راویستل او په دایره د مسیحیت کی مو هم داخل نکړل او همدغه زموږ د غربی صلیبی استعمار اصلی هدف ده د غوزلمیانو خپل همت له لاسه ورکړی او بواځی آرام، راحت او سستی د ځانونو لپاره غوره بولی او ددوی همتونه په دی دنیا کی اصلاً د نفسی خواهشاتو څخه بل هیڅ شی نه پیژنی ، او پدی کار سره تاسی خپله درسپارل شوی سپیڅلی دنده په ښه اکمله توګه سره سرته رسولی ده . د غه مبشر چی خپلو ملګرو ته هر څه وویل دا ټول حقیقت وه او که موږ اسلامی نړی ته ځیر شو نو دا به په ډاګه رامعلومه شی چی ټوله اسلامی نړی یی په مفکوروی لحاظ تر خپل اغیز لاندی راوستی او په ټولو اسلامی ملکونو کی وضعی یا د انسان په لاس جوړ شوی قوانین پلی شویدی او هغه د خدای مقدس قانون یا شریعت چی څوارلس پیړی وړاندی د انسانانو د لارښوونی او د ژوندانه د هر اړخیزو مشکلاتو د حل لپاره نازل شوی ده، ټولو شاته غورځولی دی.

ایا په ربښتیا هم د تبشیر اصلی لامل د مسیحی دین خپرول دی ؟ مخکی مو دا وپیژندل چی تبشیر د مفکوروی جګړی یوه برخه دی او غواړی چی مسیحی دین په نړی کی خپور کړی، راځی دا هم وپیژنو چی ربښتیا هم اوس مبشرین او هغه دولتونه چی مبشرین تمویلوی او مرستی ورسره کوی، اصلی لامل یی مسیحی دین ته وده ورکول دی او یا دا چی غربی نړی اوس ټولو اسمانی دینونو ته شاوراړولی ده .

پدی هکله دکتور مصطفی الخالدی او دکتور عمر فرج په خپل مشترک کتاب «التبشیر والاستعمار» کی داسی لیکلی دی «ځینی خلک دا ګمان کوی چی مبشرین اسلامی نړی ته ددی لپاره راځی چی هلته مسیحی دین خپور کړی، لیکن حقیقت دا دی چی د دین خپرول د تبشیر په ټولو دندو او فعالیتونو کی بیخی په دریمه مرحله کی دی بلکی په نن عصر کی د غربیانو هدف یوازی او یوازی د اسلام مخ نیوی او اسلامی نړی تر خپل اغیز او استعمار لاندی راوستل دی »

که څه هم یوه محدوده طبقه تبشیری کاروانونه ددی لپاره تمویلوی چی په اسلامی نړی کی مسیحی دین پلی شی، مګر اکثریت مطلق د مبشرینو او هغه هیوادونه چی د دوی سره مرسته کوی. هیڅ له دین سره رابطه او تړاو نه لری. که چیری څوک غربی نړی په دقیق نظر سره وڅیړی نو دا به ورته په ډاګه شی چی غربی نړی یوه ملحده، ماده پرسته او له ټولو اسمانی دینونو څخه لری نړی ده، ان تر دی چی په هیڅ آسمانی دین ایمان نه لری، بواځی په مادیاتو او هغه څه یقین لری چی د تجربو له مخی ثابت شی. د امریکا متحده ایالات چی ټوله نړی یی له مبشرینو څخه ډکه کړی ده خپل د کبر او غرور نه ډک تندی یی سر و زرو، سپینو زرو او پترو لوته په سجده لګولی ده. همدا راز اروپا چی ټولو اسمانی دینونو ته یی په یوه نظر وکتل او دا تمیز یی ونکړ چی کوم دینونه تحریف شوی او کوم نه دی تحریف شوی بلکی ټول یی د تمدن او ترقی په لار کی خنډ وبلل. دلته نو موږ دا په ډاګه ویلی شو چی په نني عصر کی د تبشیر اصلی لامل سیاسی استعمار ده .

مبشرین خپل هدف ته د رسیدلو لپاره له لاندی مهمو وسایلو څخه کار اخلی :

۱- د اسلام د اتلو او سر ښندونکو ځوانانو په یو او بل نوم بدنامول،

۲- د اسلامی مفکوری له اصالت څخه انکار کول،

۳- غربی فلسفی ته لوړ مقام ورکول او هغه د انسانانو د لارښوونی مصدر ګڼل،

٤- دا چی اسلام بواځی تر دینی امورو پوری تعلق لری او تر دولت پوری هیڅ اړه نه لری او ددی وړ نده چی په هر وخت او هر ځای کی کار ورکړی،

٥- ددی خبری تبلیغات چی قرانکریم اسمانی وحی نه بلکی محمد «ص» او د هغه د صحابه و په لاس جوړ شوی کتاب دی،

٦- د خلکو ذهنونو ته دا خبره رسول چی په ټولو نبوی احادیثو کی شک ده .

۷- دا چی اسلام یو ویښی بهونکی دین دی او یواځی د توری په زور په نړی کی خپور شو .

مسلمانان باید په دی پوه شی چی غربی نړی کوم لګښتونه په یو او بل نوم په اسلامی ملکونو کی کوی دا دی لپاره ندی چی پیسی چی پسی ورسره زیاتی شویدی بلکی اوس هم په اروپا او امریکا کی ډیر خلک د غربت په حال کی ګیر او له لوږی مری خو موږ باید په دی پوه شو چی غربی استعمار ګران شوم هدفونه لری او خپلو شومو هدفونو ته د رسیدلو په لاره کی مالی او ځانی قربانی ورکوی. د امریکا د سنا د مجلس د یوه غړی د خولی وینا ده چی د امریکا دالر د ومره ندی زیات شوی چی خلکو ته صدقی او خیراتونه ورکړی بلکی موږ ددی لپاره په خلکو لګښتونه کوو چی د ملګرو ملتونو په غونډه کی به زموږ د طرحو ملاتړ او تائید کوی

وطن

دغه وطن به مونږ په خپله جوړوونه
په كار مو نه دي د اغيارو تور لاسونه
دنيا ليدلي زمونږ زور دي
زمونږ د توري عجب شور دي
نوم مو كتلي لور په لور دي
مونږ دښمنانو ته وركړي دي درسونه
په كار موندي د اغيارو تور لاسونه
* * *
قرآن زمونږ اساس بنياد دي
پردي لارګو دا مو ثبات دي
هر يو مومن ته زمونږ نجات دي
بيريږونه كه څوك-كوي خپل بنديزونه
په كار موندي د اغيارو تور لاسونه
دا كور څما وستا په لاس جوړيږي
هر يو مودي ته هوسيږي
دغه بوستان به زرغونيږي
كه اوبه وركړي پردي غواړي تري ګلونه
په كار موندي د اغيارو تور لاسونه
* * *
د خداي نظر زمونږ عزت دي چي اوس راغلي امنيت دي
د «اختري» دغه صحبت دي
پاك خداي دي وكړي پر ملت زمونږ احسانونه
په كار موندي د اغيارو تور لاسونه

عبدالباري «غيرت»

دعا

اي د دين غازيانو بريالي اوسي
لويو قهرمانو بريالي اوسي
پاك الله مو مل شه تل
كلك مو هر يو پل شه تل
ورك هريو د غل شه تل
اي فداكارانو بريالي اوسي
لويو قهرمانو بريالي اوسي
تاسو يي د دين ستني
دا د ښه آئيين ستني
حبل الله متين ستني
پاكو مومنانو بريالي اوسي
لويو قهرمانو بريالي اوسي
ورك كړي دا جاهل لښكر
دا د جنګ عامل لښكر
دغه د باطل لښكر
كلكو مسلمانو بريالي اوسي
لويو قهرمانو بريالي اوسي
جګه مو شمله شه تل
حق باندي مو تله شه تل
خداي مو مل د پله شه تل
ننګ د افغانانو بريالي اوسي
لويو قهرمانو بريالي اوسي

د شعر او ادب

اوښكي

عبدالباري «جهاني»

څه تودي تروی اوبه دی
د ګريوان په لور بهيږي
ابدي سكون ته درومي
له ژوندي سترګې بيليږي
له هر څاڅكي سره مله وي
د مرموز جهان ږغونه
پر آشنا لارو ور اخلي
نا بلده قدمونه
د كمزوري دنيا ژبه
د قدرت پېښو ته ورلويږي
د احساس بيده نغمه ده
په باڼو ږغول كيږي
دا شريكه ګونګې ژبه
هري سترګې ته آشنا ده
دا د هري مينې كور دی
دا د هر نفرت غرغا ده

«فرقاني»

نيايش

رخ به سوي درګه تو قلب نالان آمديم
رحمتي فرما بحال ما پريشان آمديم
غرق ګشتيم دريم عصيان فروما نديم به ګِل
كن بيرون ما را ازين محنت حيران آمديم
دور و پيش ما بزدا از بلا ، شر و نفاق
مسلمين را وحدتي ده چون خروشان آمديم
خوش بود ګردست بدست هم دهيم از روي لطف
در ره توحيد دلها عذر خواهان آمديم
ساز و برګ زندګي ما را بده آب بقا ،
در امان دار مؤمنان را سينه بريان آمديم
زخم هاي پيكر اين ملتِ بيچاره را
از كَرَم درمانګري فرما به افغان آمديم
موجهٔ دریاي رحمت قطره بر مايان بريز
جرم ما را شستشو كن چهره عريان آمديم
يا لطيفٌ و يا حليمٌ و يا كريمٌ و يا رَحيمْ
مرحمت بر حال ما بخش مستمندان آمديم
عفو تقصيرات ما ، إرحَمْ لَنا يا رَبَّنا
ما به اين آرمان به سويت ديده ګريان آمديم

سفر نامه

از كابل تا تاشكند

ديپلماسي فعال امارت اسلامي افغانستان

در اجلاس گروه ۶+۲ منعقده تاشكند

(۱)

احمد ضياً "شريفي"

خوانندگان گرامي!
طوريكه آگاهي داريد در اين اواخر هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان تحت رياست محترم ملا امير خان "متقي" سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ، جهت اشتراك در اجلاس گروه ۶+۲ عازم تاشكند پايتخت جمهوري ازبكستان گرديده بودند كه اينك طبق وعده قبلي گزارش مفصل اين سفر خدمت شما عزيزان تقديم ميگردد.

دعوتنامه و ترتيبات سفر

دعوتنامه نماينده خاص سرمنشي ملل متحد و وزارت خارجه ازبكستان مبني بر اشتراك هيأت عالي رتبه امارت اسلامي افغانستان در اجلاس ۶+۲ به روز شنبه مؤرخ ۱٤۲۰/٤/٤ مواصلت ورزيد.

صبح يكشنبه مؤرخ ۵ ربيع الثاني وقتي به دفتر رفتم و از موضوع آگاهي حاصل نمودم ترتيبات سفر را گرفتم از دفتر ملل متحد آقاي باران تيلفون نمود كه ۱۰ دقيقه بعد طياره به ميدان هوايي كابل نشست مي نمايد هيأت شما آماده است يا خير ؟ من برايش گفتم كه چند دقيقه بعد برايت نتيجه را ميگويم.

در اين لحظه محترم ملا امير خان متقي كه در رأس هيأت عاليرتبه امارت اسلامي جهت اشتراك در اجلاس تعيين گرديده بود در صحن وزارت امور خارجه از موتر حاملش پياده گرديدو من موضوع طياره ملل متحد را برايش گفتم: وي گفت: زاهد صاحب كجاست؟ گفتم زاهد صاحب آمده بود دو باره به خانه، خود رفت. من متقي صاحب را به دفتر محترم وزير امور خارجه رهنمايي نمودم. در آنجا زاهد صاحب هم آمد. بعد از چند لحظه وزير صاحب امور خارجه مرا خواست و گفت كه به ميدان هوايي برو و بگو كه ده الي ۱۵ دقيقه بعد انشاء الله هيأت ميرسد. چون نماينده دفتر ملل متحد آقاي باران در دهليز منزل اول منتظر بود و هم چنان محترم حاجي عيسي مسؤول دسك تشريفات وزارت امور خارجه در ميدان هوايي بود ذريعه مخابره، نماينده، ملل متحد موضوع را به حاجي صاحب عيسي گفتم . در اين لحظه داكتر صاحب پكتيس از نزد وزير صاحب پائين شد و برايم گفت كه پاسپورتت را با خود داري؟ گفتم: بلي، در خانه است. وي گفت: پاسپورتت را گرفته و به دفتر بيا .

من هم به مير احمد دريور بنز تشريفاتي وزارت صدا زدم كه موتر را آماده بساز كه برويم. رفتم پاسپورت را از خانه گرفتم و از آنجا به دفتر پكتيس صاحب تيلفون نمودم. كسي گوشي را بلند ننمود. فكر كردم وقت كم بوده و به طرف ميدان حركت نموده است. من هم به صوب ميدان هوايي حركت نمودم

ميدان هوايي كابل و هواپيماي ملل متحد

ساعت ۱۰:۱۵ دقيقه به ميدان هوايي رسيدم . در آنجا همه منتظر بودند . لحظه يي بعد پكتيس صاحب هم به ميدان رسيد . بعد از خدا حافظي با دوستان حاضر در ميدان، پاسپورتهاي هيأت را از حاجي صاحب عيسي همكارم تسليم شدم و چند لحظه در رابطه به مسايل تشريفاتي با محترم حاجي صاحب مشوره نمودم و بعداً به طياره (۲۰۱) ملل متحد سوار شديم . طياره ساعت ۱۰:۲۰ دقيقه حركت نموده و بعد از آنكه به خط رنوي ايستاده شد ساعت ۱۰:۲٦ دقيقه پرواز نمود. پيلوت در مورد سفر ، در صورت وقوع كدام حادثه استفاده از لباس مخصوص، آكسيجن و دروازه خروجي و مدت پرواز از كابل الي تاشكند معلومات ارائه نمود.

هيأت عالي رتبه امارت اسلامي افغانستان كه تحت رياست محترم ملا امير خان متقي جهت اشتراك در كنفرانس كشور **هاي ۶+۲ عازم تاشكند بودند قرار ذيل است :**

۱- محترم ملا امير خان «متقي» **سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ و رئيس هيأت .**

۲- محترم مولوي عبدالرحمن «زاهد» معين وزارت امور خارجه .

۳- دكتور عبدالستار «پكتيس» رئيس تشريفات وزارت امور خارجه .

٤- نگارنده احمد ضياً شريفي عضو رياست تشريفات وزارت امور خارجه .

۵- نور علم معاون بورد ترجمانان وزارت امور خارجه .

طياره ملل متحد كه داراي ۷ سيت بود جمعاً ۵ نفر هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان و يك نفر از دفتر UNSMA در آن بود .هيأت امارت اسلامي افغانستان كه جهت انجام امور رسمي در خارج از كشور سفر مي نمايند هميشه كوشش بر آن دارند تا همه مسايل را به مشوره هم انجام دهند و اينك طياره بهترين فرصت را ميسر ساخته بود براي صحبت و مشوره نمودن ما در مورد اجلاس گروه ۶+۲ و مسايل مربوط به آن در ارتباط به وظايف هيأت .

بعداً متقي صاحب در مورد نماز گفت كه شريفي آذان بگويد و زاهد صاحب امام ماست و نماز را به جماعت ادا مي نماييم .پكتيس صاحب گفت : در هوتل محلي براي اداي نماز موجود خواهد بود ؟! زاهد صاحب گفت : چندي قبل كه من به ازبكستان آمده بودم وقت نماز ظهر شد و من از مسؤولين ازبكستان كه به تعداد هشت نفر از اعضاي كابينه آن كشور بود قبله را پرسيدم هيچ يك نمي دانست كه قبله كدام طرف است . پس در هوتل چطور امكان دارد كه مسجد باشد.

فاصله ميان كابل الي تاشكند ۲ ساعت و ۵ دقيقه را در بر گرفت. در هر قسمت كه طياره مي رسيد همه از فضا به طرف پائين مي ديديم و مناطق مختلف افغانستان از فضا خيلي زيبا ،قشنگ و سر سبز معلوم ميشد .

طياره ساعت ۱۱:۳۰ داخل قلمرو فضايي ازبكستان گرديد مساحت اين كشور مستقل به (٤٤٧٤٠٠) كيلو متر مربع و نفوس آن به ۲۵ ميلون نفر مي رسد. اكثريت نفوس اين كشور را ازبك ها و مسلمانان سني مذهب تشكيل ميدهد و اين كشور بخاطر ثبات سياسي اش و نيز امكانات اقتصادي كه دارد از جمله كشور **هاي با نفوذ آسياي ميانه بشمار مي رود.**

از منابع طبيعي اين جمهوري **نفت و گاز ، ذغال سنگ، سرب و المونيم بوده و پنبه يكي از اقلام مهم توليدي** اين كشور در بخش **زراعت را تشكيل ميدهد.** سالانه **حدود ۵.۵ ميلون تن پخته اصلي و ۵۰ هزار تن ابريشم با شهرت جهاني توليد مي نمايد. در چوكات اتحاد شوروي سابق حدود ۷۰ در صد طلا از معادنّ ازبكستان استخراج مي شد.**

ازبكستان تقريباً ۱٦۸ كيلو متر با امارت اسلامي افغانستان سرحد مشترك دارد و در گذشته بيشترين اموال از طريق بندر حيرتان بشكل ترانزيت وارد افغانستان مي شد.

در لحظات اول از طياره همه جا كوهستاني به نظر ميرسيد كه ممكن ساحات ترمز بوده باشد ولي بعد واديهاي سرسبز چشمان ما را به خود جلب كرد من به فكر كابل افتيدم كه زماني كابل نيز سرسبز و آباد بود و اميدوار هستيم كه در پهلوي باز سازي و نوسازي فرهنگ و اعمار مجدد در كشور كابل را نيز دو باره سرسبز و آباد نماييم.

ميدان هواي بين المللي تاشكند

ساعت ۱۲:۳۱ به وقت كابل و ساعت ۱:۰۱ به وقت تاشكند طياره به فرود گاه بين المللي تاشكند فرود آمد . ميدان هوايي تاشكند خيلي يك ميدان كلان و زيباست. من در فكر فرو رفتم و با خود گفتم كه چقدر پرواز ها بر ضد افغانها در وقت تجاوز روسها در افغانستان از اين ميدان هوايي صورت گرفته باشد. زمانيكه قشون شوروي سابق سر افگنده از **افغانستان خارج گرديد مقدار زياد سلاح و مهمات، توپ و طياره كهنه آنها به رژيم مزدور نجيب باقي ماند و همچنان براي ازبكستان نيز همچو وسايل باقي مانده باشد. متصل اين، بيانيه كارمل كه در ٦ جدي ۱۳۵۸ (روز تجاوز بي شرمانه قشون سرخ بر افغانستان) از راديو تاشكند منتشر شد در گوشم طنين انداز گرديد .به هر حال طياره حامل هيأت افغاني وقتي كه در ميدان پائين شد در كنار در حدود** تقريباً ٦۰ الي ۷۰ طياره مسافر بري و كارگو كه در ميدان به نظر مي خورد قرار گرفت؛ وقتي از طياره پائين شدم هوا نسبت به كابل گرمتر بود . در نزديك طياره رئيس تشريفات وزارت امور خارجه ازبكستان آمده بود. من با ايشان احوال پرسي نمودم؛ موصوف به انگليسي صحبت مي نمود؛ در مورد هيأت امارت اسلامي افغانستان برايش معلومات ارائه نمودم. بعداً موصوف در رابطه به امنيت برايم اطمينان داده و در مورد اشخاصيكه جهت پذيرايي هيأت افغاني به ميدان تشريف آورده اند معلومات ارائه نمود . بعداً دو باره به طياه رفته و هيأت را جهت پائين شدن دعوت نمودم؛ سپس متقي صاحب كه در رأس هيأت قرار داشت و ديگر اعضاي **هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان براي رئيس تشريفات وزارت خارجه** ازبكستان معرفي شد .**به تعقيب آن به موتر VIP (Very Importent Person)** (خيلي شخص مهم) كه جهت انتقال هيأت از نزديك طياره الي سالون VIP آمده بود سوار شديم؛ در نزديك سالون VIP معاونين وزارت امور خارجه ازبكستان جهت پذيرايي آمده بودند . بعد از تعارف داخل سالون VIP شديم.

سالون VIP اتاقيست كه معمولاً از ديپلوماتها و شخصيت هاي سياسي پذيرايي به عمل مي آيد و بعد از صرف چاي و نوشابه و بعضي اوقات در صورت ضرورت تدوير كنفرانس مطبوعاتي، هيأت به طرف اقامتگاه و يا در صورت برگشت به طرف طياره با موتر VIP حركت مي نمايد.

سالون VIP ميدان هوايي تاشكند خيلي زيبا و قشنگ و با قنديل هاي طلايي رنگ سقف آن مزين بود. بعد از آنكه هيأت امارت اسلامي افغانستان به كرسي نشستند پاسپورت هاي رئيس و اعضاي هيأت را كه نزد بنده بود جهت صادر نمودن ويزه لازم به رئيس تشريفات **وزارت امور خارجه ازبكستان تسليم نمودم كه بعد از ۱۰دقيقه دو باره پاسپورتها را بعد ازصدور ويزه ۲۰ روزه برايم تسليم نمود.**

ادامه دارد

از اثر جنگهاي تحميلي در شهر کابل ...

جاري و اساسي، عرضه بيشتر خدمات اجتماعي و انجام بهتر وظايف حفظ و مراقبت تصميم اتخاذ شد تا به شکل يك تصدي فعاليت نمايد. در سال ۱۳۵۹ به حيث يك تصدي غير انتفاعي از جانب مقامات ذيصلاح وقت پذيرفته شد. بعد از مرور مدت کمي در سال ۱۳۶۰ بنا بر اعمار بلاك هاي جديد و گسترش ساحه اعمار بلاك هاي رهايشي و ايجاد پروژه هاي جديد ساختماني تهيه مسکن، شهر آراء و سره ميته، به حيث يك تصدي انتفاعي عرض اندام نمود. قابل ياد آوري است که اين تصدي طي سالهاي اخير نسبت جنگ هاي تحميلي و شرايط نا مناسب کاري به ضرر مواجه بوده که به اساس لزوم ديد مقامات صالحه وقت سيبايدي شده و اين پروسه هم اکنون نيز ادامه دارد.

موصوف علاوه نمود : تصدي تدوير و مراقبت مکروريانها، طوريکه از شيوه کار و فعاليت و اساسنامه آن هويداست يك اداره يا تصدي خدماتي اجتماعي و با داشتن ٤٣٦ نفر پرسونل مجرب فعلاً مصروف فعاليت هاي خدماتي درقسمت حفظ و مراقبت بيش از ۹۵۰۰ اپارتمان رهايشي مکروريانهاي اول دوم سوم الف و ب و چهارم و پلاك هاي رهايشي پروژه هاي تهيه مسکن، شهر آراء، سره ميته و ۹۱ فاميلي قرار داشته خدمات از قبيل تهيه آب سرد آشاميدني فعال نگهداشتن کاناليزاسيون ساحات متذکره تنظيف محيط زيست مربوطه از لوث کثافات، پك کاري زير زميني هاي بلاك ها و سرسبز ساختن محيط زيست ذريعه غرص نمودن نهال هاي زينتي، پاك کاري جويچه ها و چم کاري خيابان هاي ساحه مکروريان ها، جمع آوري فضلات و کثافات از زباله داني ها و انتقال آن به جا هاي معينه خارج از شهر تا باشد از شيوع امراض مهلك جلوگيري بعمل آيد حفاظت و وارسي از چمن هاي سبزتي مکروريانها و ساحات مربوط به تابن تصدي، وارسي از نهال هاييکه قبلاً در اين ساحات غرس گرديده است ترميمات جاري در امور ساختمان هاي برق، نل دواني، انجام خدمات تجاري، رنگمالي و غيره مي باشد. علاوتاً اين تصدي فعاليت هاي اقتصادي از قبيل ايجاد مارکيت هاي موقت کانتينري و تجارتي و بالا بردن کرايه دکان هاي مربوط اين تصدي را نيز انجام داده است که از اين مدرك مقدار هنگفت پول عايد تصدي ما ميگردد قابل تذکر است که به اثر کار و فعاليت هاي خستگي ناپذير انجنيران و کارگران اين تصدي و به همکاري و معاونت موسسه خيريه سوليداريتي دستگاه تصفيه خانه ها که به کلي از فعاليت بازمانده بود دو باره احيا و باز سازي گرديده و به فعاليت خويش آغاز نموده که اکنون عملاً در توليد کود کيمياوي سهم فعال داشته و کود توليدي آن به قيمت مناسب غرض فروش به بازار عرضه ميگردد که منبع خوب عايداتي به اين تصدي ميباشد.

وي افزود : از اثر جنگهاي تحميلي در شهر کابل به تصدي تدوير و مراقبت مکروريانها و ساختمان هاي اساسي آن از قبيل بلاك هاي رهايشي مکروريانها، تهيه مسکن، پروژه شهر آرا، سره ميته و ۹۱ فاميلي دستگاه هاي مولد حرارت مکروريانها، دستگاه تصفيه خانه هاي مکروريانها، چا هاي عميق آب سرد، مراکز حرارتي و همه تاسيسات و پروژه هاي آب رساني و کاناليزاسيون مکروريانها که همه و همه در مرکز ساحه عمليات جنگي قرار گرفتند خسارات هنگفت و جبران نا پذير در قسمت ساختمان هاي اساسي، تخنيکي، انجنيري، ماشين آلات و وسايل، ذخاير تيل دستگاه ها و غيره عايد گرديده که اين خسارات بالغ بر شش مليون دالر ميگردد.

نامبرده علاوه کردند : تصدي تدوير و مراقبت مکروريانها در سال جاري پلان هاي وسيع باز سازي را روي دست دارد تا گفته نبايد گذاشت که تصدي ما در حال حاضر به وجوه مالي زيادي نيازمند است که بدون آن نميتوان هيچگونه کاري و يا پلاني را عملي کرد لذا از مقامات عالي امارت اسلامي افغانستان تقاضاي کمك و همکاري را در اين زمينه خواهانيم در صورتيکه وجوه مالي مورد نياز به اختيار ما گذاشته شود ما با تمام امکانات تخنيکي و بشري خويش به احياي مجدد و باز سازي و ترميمات اساسي بلاك هاي رهايشي مکروريان هاي اول - دوم - سوم الف و ب چهارم و پروژه هاي شهر آراء، تهيه مسکن ۹۱ فاميلي و سره ميته که از اثر جنگهاي اخير کلاً و يا قسماً تخريب گرديده است و همچنان احياي مجدد و ترميمات اساسي تصفيه خانه هاي مکروريان ها، آب رساني و کاناليزاسيون دستگاه هاي مولد حرارت مکروريان هاي اول، دوم، سوم، و چهارم خواهيم پرداخت. همچنان در نظر داريم که در سال جاري فعاليت هاي خويش را در ساحه آب رساني آب آشاميدني، تنظيف ساحه مربوطه و ايجاد سرسبزي بيشتر و جدي تر نماييم.

در بخش فعاليت هاي اقتصادي توجه زياد تر ما غرض بدست آوردن عايدات خوب و بيشتر به ايجاد دکاکين، مارکيت هاي کانتينري، توليد کود کيمياوي و غيره ميباشد. بايد خاطر نشان نمود که پرسونل فني و خدماتي ما ٢٤ ساعت در ساحات مربوطه و پروژه هاي که از آنها نام برديم مصروف وظايف محوله خويش ميباشند.

موصوف مي افزايد : رياست تصدي تدوير و مراقبت مکروريانها متمني است که مقامات محترم وزارت آب و برق به سلسله همکاري هاي مداوم خويش در مورد برقي ساختن پمپ ستيشن مرکزي قلعه وزير که تمام اب هاي کاناليزاسيون ساحات مکروريانها از آن طريق به دستگاه تصفيه خانه ها ذريعه پمپ ها جريان داده مي شود و همچنان برقي ساختن چاه هاي عميق آب آشاميدني نمبر اول، دوم الف، دوم ب، سوم و ذخيره بالاي تپه مرنجان اقدام و همکاري نموده تا باشد که باشندگان محترم مکروريانها آب مورد نياز خويش را از داخل اپارتمان هاي شان اخذ و به مصرف رسانند در زمينه توجه خاص مقامات ذيصلاح وزارت محترم آب و برق را خواهانيم.

چون دستگاه هاي مولد حرارت مکروريان ها و مراکز حرارتي متعلق به آن، يکي از عمده ترين و اساسي ترين بخش هاي تخنيکي و انجنيري اين تصدي بوده و وظيفه اساسي آن توليد بخار براي مرکز گرمي ها و توليد آب گرم ميباشد. البته زمانيکه درجه حرارت صفر و يا پايينتر از آن باشد يعني در ايام زمستان اين دستگاه ها فعاليت ميشود تا درجه حرارت اپارتمان هاي رهايشي و ادارات دولتي مربوط به ساحه مکروريان ها را به يك درجه نورمال حفظ نمايد تا باشد که باشندگان محترم از سرما خوردگي و سردي زمستان نجات يابند.

البته در صورتيکه دستگاه هاي مولد حرارت مکروريان ها فعال گردند در ايام زمستان در مصرف برق صرفه جويي زيادي بعمل خواهد آمد و بالاي ترانسفارمر هاي مربوط نيز فشار زياد وارد نخواهد گرديد.

بايد ياد آوري نماييم در اثر جنگهاي که در شهر کابل بوقوع پيوست تنها و تنها به دستگاه هاي مولد حرارت، اين تصدي خسارتي بالغ بر سه مليون دالر عايد گرديده است. ما غرض احيا و باز سازي مجدد اين دستگاه ها پيشنهادات متعددي را به مقامات عالي رتبه امارت اسلامي و از آن طريق به موسسات خيريه خارجي، کشور هاي دوست و همسايه ارائه داشته و خواهان همکاري شده ايم ولي با تاسف که تا حال کدام اقدام عملي در زمينه صورت نگرفته است. ما يك بار ديگر از مقامات صالحه امارت اسلامي افغانستان تمنا داريم تا در مورد احيا و باز سازي مجدد دستگاه هاي مولد حرارت عطف توجه نموده در صورت امکان از وجوه مالي امارت اسلامي افغانستان طور فوق العاده يك مقدار پول را در اختيار اين تصدي قرار دهند تا باشد که اين ستگاه ها به موقع فعال گردند. البته از توجه مقامات بلند رتبه امارت اسلامي افغانستان قبلاً سپاس و امتنان مينماييم.

سيد يوسف

نابرابري هاي ...

۱۹۹٤ تا ۱۹۹۸ ثروت خالص خود را به دو برابر افزايش داده و آنرا به يك تريليون دالر رسانده اند.

طبق گزارش اداره نفوس ملل متحد سه مليارد دربزرگ جهان به تنهايي عايد بيشتر از عايد چندين کشور و به انکشاف باشش صد مليون نفر جمعيت در اختيار دارد.

ناحيه وسيعي در ...

ساحه بيش از يك صدو پنجاه و سه هزار هکتار زمين جو، پخته، شالي، جواري، ماش، کنجد، زغر، خربوزه و تربوز و ساير سبزيجات از قبيل بادنجان رومي، کچالو، رشقه و شبدر تحت زرع قرار گرفته که حاصل بهتري نسبت به سال هاي گذشته بدست آمده است.

په کوسوا کي ...

تر اداري لاندي دي.

البانيايي توکمو ددغو مظاهرو په بهير کي روسان په دي تورن کړل چي دغيتو په بهير کي يې د صربيانو پلوي کړه او د ملګرو ملتو د سولي ساتونکي پرځ د عربي په توګه په لازم ډول د البانيايي توکمو ساتنه نه کوي.

بر خلاف صربيان ادعا کوي چي د ناتو ځواکونه له هغوي نه د کساسوا د ازادي بخښونکي اردو د بريدونو په وړاندي ملاتړ نه کوي.

د امريکي د څمکنيو ...

ځواکونو د عسرمي قوماندان د استوګني د مودي او د ترکيي له چارواکو سره دده د احتمالي کتنو په باب څه څرګندوني ونه کړي تيره اونۍ هم د امريکا د متحده ايالاتو د دفاع وزير په ناڅابي ډول ترکيي ته لاړ او ددغه هيواد له چارواکو سره يې خبري اتري وکړي.

رئيس جمهور الجزاير ...

فرانسه و الجزاير در اثر شورش مخالفين الجزيره تيره گرديده اما از زمان تقرر عبدالعزيز بوتو فليقه به مقام رياست جمهوري الجزاير که خواهان آشتي ملي است اين مناسبات رو به بهبود گذاشته است.

د کابل د نړيوال هوايي ...

له نيکه مرغه اوس د مسلمانانو د لمانځه د ادا کولو او د عبادت په خاطر د کابل په نړيوال هوايي ډګر کي يو جومات جوړيږي چي په يوه وخت کي دري سوه اويا تنه لمونځ کوونکي پکي ځايږي.

محترم ملا محمد يونس زيانه کړه د ملکي هوايي چلند او توريزم وزارت په پام کي لري چي د کابل د نړيوال هوايي ډګر د هغو ټولو تاسيساتو د بيا جوړلو کار چي د رباني د ائتلافي رژيم په دوران کي د جګړو له امله ويجاړ شوي پيل کړي. چي په بشپړيدو سره به يې موږ د نړيوال هوايي د يو رښتيني نړيوال هوايي ډګر شاهدان و اوسو.

د کندز ولايت د امام ...

هدفونو د عملي کولو په لاره کي له هيڅ راز سرښيندني او ځان تيريدني نه ډډه نه کوي.

وروسته د کندز محترم والي د امام صاحب د ولسوالي د بيلا بيلو کليو خلکو ته د اسلامي امارت د سوله ييزو هدفونو له بيانولو وروسته د هغوي د نودو او اتلوالو ولولو درناوي وکښ او د لوي خداي«ج» له دربار نه يې په ټولو برخو کي د هغو د لازياتو بريالتيوبونو هيله وکړه.

په دي کتنه کي محترم علي قل محترم قاري محکم تاش، محترم نواز خان باي، محترم افغان باي او د کندز ولايت د امام صاحب ولسوالي يو شمير نورو مخورو او جهادي شخصيتونو او سپين ږيرو ګډون کړي و.

امريکا به ارزش هفت ...

فرانسه در لست کشور هاي صادر کننده تسليحات در سال گذشته در رديف سوم قرار گرفته و معادل سه مليارد دالر اسلحه به خارج به فروش رسانده است اين هشتمين سال پي در پي است که ايالات متحه امريکا در صدر کشور هاي صادر کننده تسليحات قرار ميگيرد.

د کونړ په ولايت کي ...

په ولايت کي د څه د پاسه لسو زرو ميوه لرونکو او بې ميوو نيالګيو په ظرفيت د ستر فارم د جوړولو کار په پام کي نيول شويدي.

ددغه فارم په جوړولو سره نه يوازي د کونړ ولايت د طبيعي ځنګلونو چي د هيواد د ملي پانګي ستره برخه ده ساتل کيږي بلکي د مصنوعي ځنګلونو د زياتوالي او د نيالګيو له بپي روزني سره ددغه ولايت د بهوالو د پلدتيا په لاره کي مثبت او ارزښتناك ګام دي.

د کونړ ولايت د کرني د رياست يوه خبر ځاي په دي باب د باختر اطلاعاتي اژانس ته وويل د هغي غونډي په ترڅ کي چي په دي وروستيو وختو کي د عمراني تګلاري په پيروي او د فارمونو د بيا جوړولو په مقصد د کونړ ولايت د کرني د رياست د مشرتابه هيأت او چارواکو په ګډون جوړه شوي وه پريکړه وشوه چي د زرو چرګانو په ظرفيت دي په دغه ولايت کي د چرګانو د روزني يو فارم هم جوړ شي.

خبر ځاي زياته کړه څرنګه چي د کونړ ولايت د مسلمانو خلکو په سلو کي څه د پاسه پنځوس عايدات مالداري او د څارويو روزنه ده له دي امله ددغه ولايت د خلکو د اقتصادي بنسټ د پياوړتيا په خاطر د کونړ ولايت د وترنري د برخي فني چارواکي خپله جدي پاملرنه د مالداري د چارو د ښه والي او د بيلا بيلو حيواني ناروغيو مخنيوي ته اړولي ده او انشاء الله په نژدي راتلونکي کي به په بيلا بيلو ګروتو کي د کونړ ولايت د بيا جوړوني شاهدان واوسو.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

تبصره

د شمالي وروستي پيښي او د اسلامي امارت د مخالفينو پروپاګند

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحريك د رامينځته کيدلو او پاڅون انګيزي او عوامل هر چا ته روښانه دي او په دي اړه تبصره به مو اوس تکراري مفهوم او سر خوږونکي مضمون وي او دا حقيقت هم هر چا ته روښانه دي چي د طالبانو اسلامي تحريك چي اوس يې د لوي خداي«ج» په مرسته د هيواد په سلو کي پنځه نوي برخي خاوري باندي کنترول تر لاسه کړيدي او په يو اسلامي امارت باندي بدل شويدي خپلي داعيي ته وفادار او په خپلو ژمنو يې عمل کړيدي او د هيواد په پنځه نوي فيصده خاوره کي يې بشپړ امنيت تامين کړيدي، سوچه اسلامي شريعت يې نافذ کړيدي، هيواد وال اوس په دي سيمو کي په پوره اطمينان او ډاډ سره ژوند کوي او د سوکالي او هوسايني فضا حاکمه ده. خو د افغانستان د مسلمان ولس او اسلامي امارت دښمنان چي نه غواړي چي افغانان دي ارام مطمئن او سوکاله ژوند ولري او په افغانستان کي دي رښتوني، اسلامي نظام په بشپړ ډول حاکم وي تل په دي هڅه کي دي چي نړيوالو ته د افغانستان د اسلامي امارت په اړه ناوړه تاثر ورکړي او کوښښ کوي چي د زهرجنو تبليغاتو او پروپاګند له لاري د افغانستان اسلامي امارت له نړيوال تجريد او انزوا سره مخ کړي چي ان شاء الله دا هيله به يې هيڅکله هم پوره نه شي.

د اسلامي امارت د مخالفينو د پروپاګنډيو بهير په ځانګړي ډول هغه مهال لاطوفاني شي چي کله اسلامي امارت کوم نظامي بري تر لاسه کړي چي د همدي پروپاګنديو په لړ کي يې له خپل خوي او عادت سره سم څو ورځي وړاندي د اسلامي اردو د مجاهدينو په لاس د پروان او کاپيسا د ولايتونو د فتحي په مهال په دي پروپاګند او دروغو لاس پوري کړ چي ګويا د افغانستان اسلامي امارت د مفتوحه سيمو څخه ملکي خلك په زور وباسي او په اصطلاح زور او زياتي ورسره کوي موني به هڅه وکړو تر څو په دي څو کرښو کي ددي تور او پروپاګند لنډ جاج واخلو يا په بل عبارت همدا تور او دروغ وڅيړو او د شمالي سيمو څخه له خلکو سره د واکمنو مليشو چلند د اسلامي امارت له چلند سره په لنډ ډول پرتله کړو او قضاوت به بيا درنو لوستونکو ته پريږدو.

تر هر څه د مخه دي خبري ته اشاره په کار ده چي طالبانو په عمل کي ثابته کړيده چي د دوي پاڅون بوازي او بوازي د خداي«ج» د رضا لپاره تر سره شويدي او هيڅکله يې هم سيمه ايزو او ژبنيو اختلافاتو ته لمن وهلي نه ده او نه به چاته اجازه ورکړي چي د طالبانو له پاك نوم نه په استفادي سره دا ډول حرامو او ناوړو تمايلاتو او تعصبونو ته لمن ووهي اسلامي امارت د کابل شمالي سيمي هم د افغانستان د نورو سيمو په څير د افغانستان يوه برخه بولي، اوسيدونکي يې شريف، درانه، او د نورو افغانانو ورونه بولي، په هر درد يې دردېږي او په هر غم کي ورسره ځان شريك بولي همدا لامل دي چي د نورو افغانانو په څير يې د مفسدو او مستبدو مليشو د ناپاکو منګولو نه د دوي د خلاصون لپاره متي بډ وهلي دي او ان شاء الله چي هغه ورځ ليري نده چي د سولي، وحدت او وروري ورځي به د شمالي فضا ته هم د تل لپاره مخه وکړي. نړيوال په دي حقيقت ګواهان دي چي د اسلامي اردو ځواکونه دري ځله په فاتحانه ډول د پنجشير د دري ترخولي ورسيدل او ټولي سيمي يې فتحه کړلي خو هر کله چي هلته د مليشو لخوا د جنګ ويره پيدا شويده نو بيا د دوي د ژوند د ژغورلو لپاره حتي له خپلو سنګرونو او مورچلونو نه هم تير شويدي او دا يې خوښه کړي نده چي په جګړو کي دي ملکي خلك ووژل شي چي له دي سيمو څخه د اسلامي اردو دا ورو ستي شاتګ هم همدا انګيزه لري خو بيا مليشو ددي پر عکس د شمالي له خلکو سره دومره ظلم او خيانت وکړ چي تاريخ به يې ياد ساتي د بيلګي په ډول دا څو کاله کيږي چي مسعود، سياف او رباني د شمالي له خلکو څخه د انساني سپر په توګه کار اخلي، له کورونو څخه يې د نظامي اډي په توګه کار اخلي، ښوونځي او مدرسي يې ورته ترلي دي ځوانان يې ورته يې کلتوره او بې تعليمه لوي کړل ټول شمالي يې په مايونو پټ کړيدي، کلي او کورونه يې ورته نړولي دي، کرهڼه او مالداري يې ورته له صفر سره برابر کړيدي، د ټول افغان ولس په ضد يې جنګوي، د تعصب، سمت پالني او نژاد پالني تخم يې په کي کرلي دي همېش يې د محاصري او فقر سره مخ کړيدي.

د شمالي سيمو له اوسيدونکو سره د طالبانو ترمه تګلاره هم د هر چا په ياد دي دا به د هيوادوالو په ياد وي چي کله طالبان د لومړي ځل لپاره دي سيمو ته ننوتل نو حتي له خلکو څخه يې وسله هم وانخسته چي د اسلامي اردو ځنو دښمنانو د طالبانو له دي نيك چلند نه ګټه پورته کړه او له کورونو څخه يې ډزي پيل کړي، ددي سيمو له دوهم او دريم ځل فتحي وروسته هم همدا ناځوانمردانه عمل تکرار شو حتي په هغي شپي يې هم تکرار کړ چي عاليقدر امير المؤمنين دي مليشو ته د عمومي عفوي اعلان وکړ. دوي بايد په دي پوه شي چي رباني، سياف او مسعود دوي استعمالوي او خپلي شخصي ګټي پري تامينوي او د څو تنو د تجارت او ګټو لپاره د دوي ژوند قربانيږي که دا خبره نه وي نو بيا خو دي ووايي چي دوي په تيرو اوه کالو کي له دي مليشو نه څه ګټه پورته کړيده ؟ او څه يې لاس ته راوړي دي ؟ همدا اوس تري د اسلامي اردو د عملياتو په وړاندي د انساني سپر په توګه کار اخلي او يې ځايه يې وژني چي دا ځل د اسلامي اردو پرځونه مجبور شول چي په دي خاطر چي دوي په جنګ کي ونه وژل شي او يا نور ضرروته ور ونه رسيږي نو امکانات او ترانسپورتي وسايط يې ورته برابر کړل چي په لنډ مهال ډول يا تر هغي پوري چي په دي سيمو کي حالات عادي کيږي او د جنګ احتمال له منځه ځي له خپلو کورو يې ځايه شي او د افغانستان په هغو سيمو کي ميشت شي چي هلته امنيت قايم دي. دا ګام په حيقت کي يو مدبرانه او حکيمانه اقدام او د دواړو لوريو په ګټه فيصله وه چي که طالبانو دا کورونه تخليه کړي نه واي نو دا به هم ددوي په زيان وو او هم د اسلامي اردو د ځواکونو په زيان. دلته بايد دا روښانه شي چي د اسلامي امارت د ځنو حلقو او کړيو د تبليغاتو پر خلاف هيڅوك هم کوم ځانګړي ځاي ته په ورتللو مجبور کړي نه دي او نه يې چيرته د چا د ورتللو مخه نيولي ده حتي له دي بيځايه شويو کورنيو سره يې د ترانسپورت په شمول هر ډول مرستي کړيدي.

په پاي کي بايد د شمالي سيمو له اوسيدونکو وپوښتل شي چي دوي به تر څو د نورو لخوا استعماليږي ؟ تر څو به څو تنه ملي خائنين دوي د خپل ولس په ضد جنګوي ؟ چي ددي پوښتنو او دېته ورته نورو پوښتنو ځواب دوي ته ډير اسانه دي.

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press

پیښی او پرمختګونه - حادثات و انکشافات

اسرائيل به واگذاري قسمت هايي از ساحل غربي آماده گرديد

اسرائيل اعلام داشته است که در مدت سه هفته آينده طبق پيمان صلح واي ريور که تحقق آن در مدتها به تاخير افتاده است به واگذاري قسمت هايي از ساحل غربي به فلسطينيان آغاز خواهد کرد. اين مطلب را ايهود بارك صدراعظم اسرائيل شب گذشته از تلويزيون آنکشور اعلام داشت. نامبرده طي سخنراني اش از تلويزيون اسرائيل گفت پيمان واي ريور زمان بندي شده است و به اين اساس فقره هاي آن به اجرا در خواهد آمد. وي کوشش داشته است اجراي بخشي از انتقال اراضي و عقب نشيني عساکر اسرائيل را که درين پيمان براي اجراي آن وعده گرديده به تعويق باندازد. اما فلسطينيان به لزوم اجراي هرچه زود تر و کامل موافقتنامه واي ريور پافشاري ميکنند.

اجساد يکصدو نود و هفت نفر از قربانيان تصادم قطار آهن در هند حريق گرديد

اجساد يکصدو نود و هفت نفر از قربانيان سانحه تصادم اخير دو قطار آهن که هويت آنان شناخته نه شده بود طبق مراسم مذهبي هندوان به آتش سوختانده شده و خاکستر گرديد. در مراسم سوزاندن اين اجساد مطابق آئين و رسوم در هند که در نزيکي رود بالسون انجام گرديد هزاران نفر از روستايان منطقه حضور داشتند. اين اجساد از جمله دو صدو هشتاد و پنج نفري بردند که در سانحه بر خورد دو قطار آهن که روز دوشنبه گذشته در يك ايستگاه راه آهن دور افتاده در غرب ايالت بنگال هند رخ داد به هلاکت رسيده اند. در ميان اين قربانيان يکصدو نودو هفت جسد در نتيجه شدت جراحات قابل شناسايي نبود.